د جمعې په ورځ پر هر بالغ غسل کول واجب دي او بايد چې مسواک ووهي، خوش بويي ولګوي که ومونډل شي

له عمرو بن سليم الانصاري رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه په ابو سعيد شاهدي ورکوم چې هغه ويلي: زه په رسول الله صلی الله عليه وسلم شاهدي ورکوم چې هغه فرمايلي: «د جمعې په ورځ پر هر بالغ غسل کول واجب دي او بايد چې مسواک ووهي، خوش بويي ولګوي که ومونډل شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم څرګنده کړې ده چې د جمعې په ورځ غسل کول لکه د يو واجب عمل په ځير پر هر بالغ مسلمان چې د جمعې لمونځ پرې فرض دی لازم دی. او دا چې په مسواک او يا بل څه سره خپل غاښونه پاک کړي. او دا چې يو ډول خوشبويي ولګوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10036